# د انتها پسندۍ ځېلې
# پنجاب کښې دي کهٔ پښتونخوا کښې؟

امجد شهزاد

دا د تېرې صدۍ د ځلورمې لسیزې خبره ده، د نن نه څهٔ د پاسه اویا کاله وړاندې چې په لکونو پښتانهٔ د خدائي خدمتګار د عدم تشدد فورس کښې شامل وو او د خپلو حقونو دپاره ئې پرامن تحریک چلولو. د دوي سره هغه کروړونه پښتانهٔ هم وو چې د ازادۍ په دې مبارزه کښې د دوي د پُرامنه جدوجهد حمایتیان او خواخوږي وو، کهٔ په دنیا کښې هر څوک پښتانهٔ د شر په حواله یادوي نو د هغوي د جواب دپاره د خدائي خدمتګارو حواله کافي او شافي ده.

د افغان جهاد نه پس کهٔ یو طرف ته په پښتنو پردے جنګ ور وتپلے شو نو بل طرف ته په ټوله دنیا کښې د جنګیالو او شرخوښو په نوم مشهور کړے شو. پښتانهٔ جنګ او تخریب ته بوتلل. د خپل وخت سپر طاقتونو یعنې امریکې او سویت یونین او د پاکستان حکمرانانو د خپلو مفادو دپاره پښتانهٔ جنګیالي هم کړل او شرخوښي هم. د پښتنو هغه ګلورینې سیمې چې پکښې به د سپرلي مېلې کېدې د دغه هېوادونو ادارو پکښې د جهاد دپاره ټرېننګ سنټرونه او کېمپونه جوړ کړل چې تر دې دمه قائم او دائم دي.

د ۹/۱۱ نه پس پښتانهٔ د یو نوي عذاب سره مخ کړے شو او یو جرنېل او د پاکستان د صدارت په ذمه واره کرسۍ ناست پروېز مشرف پکښې فتوىٰ جاري کړه چې هر پښتون طالب دے او هر طالب پښتون دے. خو اوسني صورت حال دا خبره ټولو د نظر خاوندانو ته رابرسېره کړه چې طالبانائزېشن د چا ایجاد کړے شوے شے دے؟ طالب چا جوړ کړے دے، د څهٔ دپاره ئې جوړ کړے او د څهٔ موده مخکښې پورې ئې سرپرستي چا کوله؟



تېره میاشت اسلام اباد کنونشن سنټر کښې د پنځه زرو علماؤ کانفرنس ته مفتي منیب الرحمان

په خپل تقریر کښې ووې چې د پاکستان اسټیبلشمنټ د ۱۹۷۹ نه واخله د ۲۰۰۰ د لسیزې پورې د پرائیوټ وسله والو لښکرونو د جوړولو اجازت ورکولو بلکې د دوي د وسله وال تربیت انتظام به ئې هم کولو او د وسلې لارې چارې ئې هم ورته برابرولې".

هم دا تنظیمونه او لښکرونه دي چې افغانستان، هندوستان، کشمیر او نورو محاذونو کښې جنګولي شول. د بمبۍ حملو نه پس چې اقوام متحده په لشکر طیبه او جماعت الدعوه پابندي ولګوله او د پاکستان نه ئې دا غوښتنه هم وکړه چې دا تنظیمونه بین کړي او د دوي کتابونه، رسالې، اخبارونه،دفترونه وغیره بند کړي. د پاکستان حکومت په نۀ زړۀ دغه تنظیمونه بین کړل. د دوي خپرونې لکه میاشتنۍ رساله «الدعوه» او اووۀ ورځنې اخبار «غزوه» ئې هم بند کړو او د دوي ذیلي تنظیم «الدعوه فاؤنډېشن» ئې هم غېر قانوني وګرځولو. د دې سره سره ئې د دوي سکولونه، کالجونه او د مرکز "مریدکې" د بندولو اعلان هم وکړو چې عمل پرې ونۀ شو او اوس خو د سپریم کورټ د یو حکم لاندې حافظ سعید هم خوشې کړے شو. د خوشې کېدو نه پس حافظ سعید په یوه پښه د ټول ملک دورې وکړې او ډېر په زور او شور ئې د جهاد پېغام خور کړو. اکتوبر ۲۰۰۳ء کښې «مرکز یرموک پتوکي» کښې ئې د جماعت کلیزې غونډې ته د خطاب په وخت ووې چې زۀ نن دا اعتراف کوم چې د لشکر طیبه او جماعت الدعوه مجاهدین په کشمیر، هندوستان او هر هغه ځائے کښې چرته چې په مسلمانانو ظلم کېږي، جهاد کوي. جهاد په مونږ ټولو فرض دے. دا زمونږ بنیادي مقصد دے او جهاد بچ کولو دپاره به مونږ خپل ځانونه هم قربان کړو. (ډیلي ټائمز ۱۸ اکتوبر ۲۰۰۳).



حافظ سعید

د جماعت الدعوة ټول ذیلي دفترونه د دې تحریک په دفترونو کښې بدل کړے شو چې د جماعت الدعوة مولانا عبدالرحمان مکي، امیر حمزه، قاري یاسین ئې انتظام سمبال کړو. د غزوه په ځائے "جرار" او د الدعوه په ځائے "الحرمېن" شروع کړے شو او د الدعوة فاؤنډېشن دربم نوم فلاح انسانیت فاؤنډېشن کېښودے شو. په دې نوم د بېنک نوي اکاؤنټونه پرانستے شو او د خلقو نه زکوٰة، عشر او چندې راټولې کړې شوې، د دې تنظیم د شورا اجلاسونه هم د جماعت الدعوة مرکز جامعه القادسیه کښې کېږي. دوي پوسټرونه خوارۀ کړي دي او دا خبره پرې لیک ده چې د سوات اپرېشن د جهاد او اسلام خلاف دے.

په نوو نومونو د دوي د رسالو او اخبارونو اداریو او مضمونونو کښې د طالبانو ښکاره حمایت کېږي او پکښې وئیل کېږي چې د پاکستان فوځ په سوات او قبائلي سیمو کښې د مسلمانانو او مجاهدینو وینې بهیوي.

دا خبره هم د غور قابله ده چې د پنجاب د ۳۵

ضلعو په هر وړوکي لوئے کلي کښې د فلاح انسانيت فاؤنډېشن لاندې عشر راجمع کړے شو، د چندې بکسونه کېښودے شو او د تحريک حُرمت رسول د نفاذ شريعت مهم نور هم تېز کړے شو. د سيرة النبي(ص) په نوم کانفرنسونه وکړے شو چې دا خبره پکښې په ډاګه وکړې شوه چې د دهشت ګردئ په نوم حکومت د اسلام او پاکستان خواخوږي وژني. د ((جرار)) مطابق صرف په فېصل اباد کښې په پنځلس ورځو کښې ۷۴۸ پروګرامونه وکړې شو چې د جهاد د دعوت او تبليغ نه ډک وو. د جماعت اهل سنت مرکزي مشر قاري احمد ميا د لاهور يوې مجلې ته وئيلي دي چې جماعت الدعوه تحريک حرمت رسول د جهاد په نوم فرقه پرستئ ته هوا ورکوي او د جهاد دپاره عسکري ټرېننګ سنټرونه قائموي.

د الرشيد ټرسټ تنظيم خو دا تکلف هم ونهٔ کړو چې د "ضرب مومن" نوم بدل کړي. دوي تر اوسه "ضرب مومن" په باقاعدګئ سره چاپوي او خوروي د لاهور د يوې هفت روزې ((هم شهري)) د وېنا



مولانا مسعود اظهر

مطابق د ايکسپريس اخبار کالم نګار او ايکسپريس ټي وي پروګرام "کل تک" کمپئير جاوېد چودري د ياسر خان په نوم د ډېرې معاوضې په بدل کښې په ضرب مومن کښې جهادي کالمونه ليکي. دا ښاغلے په ورځني "اسلام" کښې هم دغه قسم کالمونه په بدل نوم ليکي.

د دې نه علاوه په جنوبي پنجاب کښې د کالعدم سپاه صحابه تنظيم هم په بدل نوم جماعت اهل سنت والجماعت بيا کار شروع کړے دے. لشکر طيبه چې په ۱۹۹۱ کښې جوړ کړے شوے دے چې بنيادي مقاصد ئې د کشمير د پاکستان سره الحاق کول دي او جنوبي ايشيا او ټولنه دنيا کښې د اسلام غلبه راوستل د دوي د منشور برخه ده.

دا تنظيم په عالمي کچ په ۲۶ دسمبر ۲۰۰۷ کښې د امريکي خارجه وزارت د غېر ملکي دهشت ګردو تنظيمونو په فهرست کښې شامل کړے دے. ۲۰۰۱ برطانيه او ۲۰۰۲ کښې پاکستان کښې هم د عالمي دباؤ په وجه غېر قانوني ګرځولے شوے دے چې وروستو ئې د جماعت الدعوة په نوي نوم کار شروع کړو خو ۲۰۰۶ کښې امريکې او ۲۰۰۸ کښې اقوام متحده په دې هم پابندي ولګوله.

د دې تنظيمونو مختلفې کارروايئ لاندې درج کولے شي:

- مارچ ۲۰۰۰ د لشکر طيبه جنګيالو د هندوستان زير انتظام کشمير په چټي سنګ پوره قصبه کښې ۳۵ سکان ووژل چې وروستو ئې د دې ذمه واري هم قبوله کړه.
- ۲۳ دسمبر ۲۰۰۰ء د هندوستان په دارالحکومت کښې ئې په لال قلعه حمله وکړه.
- ۱۳ دسمبر ۲۰۰۷ د جېش محمد سره ئې د هندوستان په پارلېمنټ په حمله کولو کښې

مرسته وکړه.

- ۱٤مـی ۲۰۰۲ کـالو چـک کښــې ئـې ۳۱ کسان ووژل چې استرېلوي حکومت ئې ذمه وار لشکر طيبه وګرځولو.
- ۲۳ مـارچ ۲۰۰۳ نـادي مـرګ کشـمير کښـې ئې ۲٤ پنډتان ووژل.
- ۲۰۰۵ء لنـدن کښــې پــه ترېنونــو کښــې د چـاؤدنو الـزام هـم پـه القاعـده او لشـکر طيبـه لګېدلے دے.
- ۲۰۰۵ء کښې ئې د ديـوالی پـه موقعـه پـه هندوسـتان کښــې د هنـدوانو پــه يــوه اجتمـاع کښې بم چاؤدنه وکړه چې ۵۰۰ کسـان پکښې مړۀ شول.
- ۲۰۰٦ء د هندوستان په اترپردېش رياست کښې ئې د وادانا سي په مقام څو بم چاؤدنې وکړې چې ۳۷ کسان پکښې مړۀ او ۸٤ ژوبل شول.
- ۱۳ اپرېل ۲۰۰٦ پـه هندوستان کښـې ئې د ډوډه په مقام ۳٤ هندوان ووژل.
- ۱۱ جولائي ۲۰۰٦ هندوسـتان، د ممبی پـه ترېنونو کښې ئې څو بم چاؤدنې وکړې چې په مجموعي توګه پکښې ۲۱۱ کسان مړۀ او ۷٦۸ ژوبل شول.
- اکتــوبر ۲۰۰۸ د ممبــی پــه تــاج محـل او اوبـرائے هوټـل کښــې د ترهګـرۍ پـه کـارروائی کښې نيولے شوے يـوا ځينے کس اجمل قصاب دا خبره منلې ده چې دا کـارروائي لشـکر طيبـه کړې ده.

حال دا دے چې په دې ټولو کاررو ايو کښې يو هـم پښـتون نـۀ دے ککـړ، بلکـې د اکثريـت تعلـق پکښې د پنجاب سره دے.

د جماعت اسلامي او جې يو آئي له خوا د انتها پسـندو خـلاف د فـوځي اپرېشــن مسلسـل غندنـه کېږي. د دواړو ګوندونو د ماضي قريب تـاريخ تـه د کتلو نه پس خو په دې خبره کښې هېڅ شک نۀ دے پاتې چې دوي د دغه خلقو ملګري پاتې شوي دي او اوس هم د دغه عناصرو د سياسي ونګ په توګه کار کوي. خو اوس دا خبره هم د چا نه پټه نۀ ده چې د سپاه صحابه د مشرانو يو لوئے شمېر په جمعيت علماء اسلام کښې شامل شوي دي. د جنوبي پنجاب پـه ضلعو پـه خاصـه توګه سرګودها، فېصل اباد، خانيوال، مظفر ګړ، بهاولپور، ډېره غازي خان چرته چې د سپاه صحابه ډېر زور ؤ، اوس ټول په جي يو آئي کښې شامل شوي دي.

تـر دې چې د جمعيت علمـاء اسـلام د پنجـاب صوبائي جنرل سېکرټري افتخار حقاني هم د سپاه صحابه مشر ؤ او د ډېره اسماعيل خان نه د جې يو آئـي پـه ټکـټ کاميـاب شـوے ايـم پـې اې خليفـه عبدالقيوم هم د سپاه صحابه سره تعلق لري. د دې نه علاوه د جېش محمد، لشکر جنګوي، حرکة الجهاد الاسلامي زرګونـه کارکنان، مشران او خواخوږي د جې يو آئي په جامه کښې خپل کار کوي چې د جې يو آئي په مجلس شوري کښې هم په دې حوالـه خبره شوې ده.

د بي بي سي د يو تازه رپورټ مطابق د جنوبي پنجاب په لسو ضلعو کښې د طالبانو ډېر زور دے. بي بي سي دا هم وائي چې د دغه علاقو نه تحريک طالبـان تـه مـالي امـداد او افـرادي قـوت سپلائي کېږي. يـوې انګرېزي ورځپـاڼې پـه خپـل درې قسـطه مضــمون کښــې وئيلــي دي چــې پنجــاب کښــې د عسکريت پسـندو مضبوط نېټ ورک قـائم دے او

لرې نۀ ده چې په ټول ملک کښې د فرقه واريت اور وکړي او د نفاذ شريعت په نوم رياستي رټ چېلنج کړي.

د جون په مياشت کښې چې اسلام اباد کښې "طالبانائزېشن" د بېخه ويستل او د مستقبل لارې چارې" د عنوان لاندې کوم سيمينار وشو، د عوامي نېشنل پارټۍ صوبائي صدر سېنېټر افراسياب خټک دغه سيمينار ته په خپله وېنا کښې ووې چې جنوبي وزيرستان کښې دا وخت د درې زرو نه واخله تر پنځۀ زرو پورې د پنجاب طالبان موجود دي. خټک صيب ووې چې دغه طالبان د جنوبي پنجاب سره تعلق لري او د پښتونخوا حکومت په سرکاري توګه د پنجاب حکومت ته خبر ورکړے دے او د خپلو انديښنو څرګندونه ئې کړې ده.

د جولائۍ په دوېمه نېټه د جيو ټي وي په يو پروګرام "جرګه" کښې چې سليم صافي د کوم نيولي شوي خودکُش بمبار نه انټرويو کړې وه، هغه هم د پنجاب ؤ چې جهادي نوم ئې حمدالله ؤ، په دغه انټرويو کښې خودکُش د صافي د يو تپوس په ځواب کښې دا خبره وکړه چې زمونږ سره مېران شاه کښې ټول ملګري د پنجاب دي او زمونږ استاذان هم پنجابيان دي. د خودکُش د دې خبرې په حواله چې سليم صافي د پنجاب د وزير قانون رانا ثناءالله نه پوښتنه وکړه نو هغۀ هم دا تسليم کړه چې د پنجاب نه په تحريک طالبان کښې خلق شامل دي.

د مېريټ هوټل په ځان مرګي بريد کښې چې کوم پنځۀ کسان د چيچه وطني او ساهيوال نه ګرفتار کړے شو هغه هم پنجابيان دي.

اوس خو د لاهور سري لنکن ټيم د حملې قيصه هم ښېخي واضحه شوه چې دا ټوله کارروائي تحريک طالبان پنجاب کړې وه چې امير ئې محمد فاروق دے. د دغه واقعې ماسټر مائنډ د منصورې نه ګرفتار شو او وئيل کېږي چې د دې منصوبه بندي هم په منصوره کښې شوې وه. په دې واقعه کښې برخه اخستونکي اووۀ واړه کسان عقيل، عدنان، سميع الله، عبدالوهاب، قاري احسان الحق د پنډۍ، ډېره غازي خان، ننکانه صاحب، ډي آئي خان، بهاولپور سره تعلق لري. د منصورې نه د دوي د ماسټر مائنډ ګرفتارۍ د جماعت اسلامي رجحانات او "نصب العېن" په واضحه توګه په ګوته کوي.

د لاهور په بم چاودنو کښې چې کوم کس په موقعه ګرفتار شوے ؤ، د هغۀ تعلق د لشکر جنګوي سره دے. جنوبي پنجاب د شدت پسند ګروپونو مرکز پاتې شوے دے او اوس هم دغلته د دوي مضبوط نېټ ورک کار کوي.

د بارودي ګاډو د تيارونکو ماسټر مائنډ چې حافظ شکيل معاويه عرف عثمان عرف شاه جي نومېدو د لاهور نه نيولے شوے دے. دۀ اعتراف کړے دے چې د ځان مرګي بريدونو د پاره ئې ۲ مزدې، ۲ جيپونه او يو ټوډي موټر تيار کړے دے. دۀ ووئيل چې زمونږ دوه ګروپونه دي يو ګروپ ګاډے وتښتوي او ميانوالي کښې زمونږ ګودام ته ئې راولي هلته ئې دوېمه ډله (دے او نور کسان) تيار کړي او خودکُش بمبار ته ئې حواله کړي. (ورځپاڼه مشرق پېښور ۲ جولائي ۲۰۰٦)

د لاهور د جامعه نعيميه په مهتمم حافظ سرفراز نعيمي ځان وژونکے بريد کوونکے قاري محمد عمر هم د پهاليه پنجاب سره تعلق لرلو.

۲ جولائي چې راولپنډۍ بوهړچوک کښې د

حساس اداري په بس چا خودکُش حمله کړې د هغهٔ تعلق هم پنجاب سره دے. په ۸ جولائي پېښور بورډ چوک کښې ځان مرګي چاؤدنه کوونکے کاشف علي هم د پنجاب د لياقت پور سره تعلق لرلو.

د جولائۍ په ديارلسمه نېټه مياچنو کښې د يو سکول استاذ ماسټر رياض په کور کښې جوړه کړې شوې مدرسه کښې د بارودو په ذخيره کښې چاؤدنه وشوه چې په نتيجه کښې ئې ۲۲ کسان مړهٔ او ۱۵۰ ژوبل شو او د نيم کلي ودانۍ هم تباه شوې. په مړو او ژوبلو کښې زيات شمېر د ماشومانو ؤ. ماسټر رياض او د هغهٔ ورور د هسپتال نه نيولي شوي دي او کلي نه د هغهٔ نور شپږ ملګري هم ګرفتار شوي دي. د دې ګروپ تعلق د کالعدم سپاه صحابه سره ؤ. (ورځپاڼه آج- پېښور ۱۴ جولائي ۲۰۰۹).

دا سلسله لا ختمه نهٔ ده، هره ورځ اخبار يو نهٔ يو خبر د پنجاب د شدت پسندو د نيولو يا تخريبي کارروايو ارو مرو وي. "د سيکورټي يو تجزيه نګار دا پېش ګوئي کړې ده چې د پنجاب د طالبانو باب به داسې په زور او شور پرانستے شي چې بېت الله محسود او مولوي فضل الله به هم د هغوي په وړاندې ډېر واړهٔ ښکاره شي. دا بدلون به د پاکستان د پاره ډېر خطرناک وي، ځکه چې پنجاب نهٔ صرف د ګڼې ابادۍ ترقي يافته صوبه ده، بلکې د فوځ هېډکوارټر او اېټمي اثاثې هم هلته دي. (مياشتنۍ تجزيات اسلام اباد جولائي ۲۰۰۹ء ص نمبر ۹۵).

د مفتي محمود، عبدالله درخواستي، مولانا خېر محمد جالندري نه پس د دېوبند شدت پسند مشران علامه حق نواز جنګوي، ايثار القاسمي، مولانا ضيا الرحمان فاروقي، مولانا مسعود اظهر زيات اثر په دغه سيمه (جنوبي پنجاب) لري.

د پښتنو خلاف پراپېګنډه کوونکي ليکوال، صحافيان، سياسيان او نور خلق دا ولې هېروي چې سپاه صحابه، جېش محمد، لشکر جنګوي، سپاه محمد، لشکر طيبه، البدر، حرکة الجهاد الاسلامي او حرکة الانصار ته د ټولو نه زيات افرادي قوت جنوبي پنجاب ورکړے دے. تر دې چې د دې تنظيمونو ۹۹ فيصده قيادت د دغه ضلعو سره تعلق لري. کشمير او نورو ځايونو کښې د جهاد په نوم د "ښاغليو شهيدانو" تعلق هم د دغه علاقو سره دے.

کراچۍ کښې د دهشت ګردۍ نېټ ورک جوړونکي دوه اهم نومونه قاري حيات او الياس کشميري سره سره په شلګونو شدت پسند هم د جنوبي پنجاب سره تعلق لري.

آيا دا ټول ثبوتونه د دې خبرې واضحه کولو د پاره پوره نهٔ دي چې د پاکستان دننه او بهر د انتهاپسندۍ او ترهګرۍ کارروايو کښې پښتانهٔ نهٔ، بلکې د پنجاب سره تعلق لرونکي شدت پسند او جهادي تنظيمونه لاس لري.

خبره نوره نهٔ اوږدوو صرف دومره وايو چې د دهشت ګردۍ، عسکريت پسندۍ او فرقه واريت ځېلي پښتونخوا کښې نهٔ بلکې پنجاب کښې دي او کوم خلق چې د پښتونخوا د قبائلي علاقو د تحريک طالبان او نورو شدت پسندو هلو ځلو او ټرېننګ سنټرونو ته ګوته نيسي نو دا خبره هم ښکاره ده چې د دغه شدت پسندو باداران ځوک دي. دغه ټرېننګ سنټرونه چا جوړ کړي، چا چلول او چا استعمالول. د دې ټولو هلو ځلو رېښه هم پنجاب ته رسي. بايد چې مونږ په دې سوچ وکړو.